## یرغلګر او وسله وال مخالفین د روانو خونړیو بریدونو د شدت له امله څه غواړي؟!



د افغانستان او جنوبي آسیا لپاره د ټرمپ د ستراتیژۍ له اعلان وروسته په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو هوایي بریدونه د تېر په پرتله څو ځله زیات شوي دي. په تېرو ۹ میاشتو کې په افغانستان کې ټول څه باندې درې زره او دوه سوه بمونه او توغندي کارول شوي چې د تېرو دوو کلونو له ټولې اندازې هم زیات دي. د امریکا د پوځ د مرکزي قرارګاه له خوا د خپرو شویو ارقامو له مخې، د امریکا هوایي ځواک یوازې په تېر سپټمبر کې د طالبانو او داعش ډلو پر مرکزونو ۷۵۱ بمونه او توغندي غورځولي، په داسې حال کې چې دا اندازه په اګسټ میاشت کې د دې نیمایي وه. د دغو بریدونو په ترڅ کې ملکي تلفات هم ورځ تر بلې مخ پر زیاتېدو دي. بل پلو د مخالفو وسله والو بریدونه په ټول افغانستان کې په بې ساري توګه ډېر او پیاوړي شوي دي، چې د دغو بریدونو د وروستي موج له امله په ډېره لنډه موده کې سلګونه ملکیان وژل شوي او ټپي شوي دي.

د دغو بریدونو عاملین دولت او وسله وال مخالفین دواړه د یو او بل پر وژلو ویاړي او د هغوی د وژل شوو شمېرې په اعلامیو، مطبوعاتي کنفرانسونو او رسنیو کې د یو او بل پر ضد کاروي. د بېلګې په ډول د لاسپوڅو کور ارګ او یرغلګر قاطع ملاتړ دواړه د مخالفینو وروستۍ حملې د جګړې په میدان کې د هغوی ماتېدل ګڼي. په داسې حال کې چې دواړه لوري افغان دولت او وسله وال مخالفین، افغانان او مسلمانان وژني. هغوی د پردیو د ناوړه ګټو او موخو لپاره دغه جګړه ګرمه کړې ده. امریکا او ناټو د خپلو ستراتیژیکو، سیمه ییزو او استعماري موخو لپاره د افغان دولت او په غیر مستقیم ډول د داعش ملاتړ کوي.

په دې اړه د روان لمریز کال د میزان په ۲۷مه له امریکا غبږ سره د زلمي خلیلزاد مرکه د پام وړ ده. نوموړی پخوا په افغانستان او عراق کې د امریکا سفیر و، مګر په دغه مرکه کې یې کټ مټ د داعش د ویاند رول لوبولی او ویلي یې دي چې داعش له څه مودې راهیسې د نورو ځایونو په لټه کې دی، افغانستان او مرکزي آسیا له هغو نقطو څخه دي، چې نوموړې ډله یې تر نظر لاندې لري. نوموړی زیاتوي چې داعش ډله د داسې سیمو په لټه کې ده چې د حکومت له ادارې وتلې وي او «په افغانستان کې داسې سیمې شته چې په دوامداره توګه د دولت تر ولکې لاندې نه دي». هغه د افغانستان او جنوبي آسیا لپاره د امریکا له نوې ستراتیژۍ څخه دفاع وکړه او ویې ویل چې د هغې د ښه عملي کولو په ترڅ کې به په افغانستان کې د داعش ډلې مخه ونیول شي.

په مقابل اړخ کې طالب وسله وال د امریکا، افغان دولت او داعش پر وړاندې له روسیې، ایران او پاکستان څخه وسلې او مالي امکانات ترلاسه کوي، ترڅو په سیمه کې د داعش د پیاوړي کېدو مخه ونیسي او په افغانستان کې د امریکا او ناټو اوسنی موقف وننګوي.

په داسې دردونکي وضعیت کې بیا د ښکېلاکګرو هېوادونو ترمنځ د استعماري ګټو تنظیموونکی سازمان «ملګري ملتونه»او په کابل کې د هغوی دفتر یوناما چې د افغان مسلمانانو پر وړاندې د کفارو د جګړه ییز ماشین د رواني جګړې د پرمخ وړلو سازمان دی، د افغانانو تلفات شمیري او وخت پر وخت له جګړه مارو اړخونو څخه تشې اخلاقي غوښتنې کوي، ترڅو د جګړې په ډګر کې ملکیان په نښه نه کړي. حال دا چې دواړه اړخونه تر خپلو نظامي موخو څو برابره زیات ملکیانو ته ځاني او مالي زیانونه اړوي او په ډېر وحشت سره سپین بږیري، ښځې او ماشومان وژني. یرغلګر او افغان دولت د خپلې دروغجنې «بشري حقونو» د ادعا او وسله وال مخالفین د اسلام د جګړه ییزو اخلاقو پر بنسټ عمل نه کوي. دوی ټول د مسلمان انسان د وینې تږي دي. اصلاً دا هرڅه د غربي فکر او فرهنګ پر ضعف دلالت کوي، ځکه هغوی ته د انسانانو تر وینو خپلې استعماري او پانګوالي ګټې مهمې دي.

د مسلمان وژنې په دغه لړۍ کې د جان کیري دولت چې زموږ په مسلمانه ټولنه کې یې د غربي فرهنګ او نظام د ټینګولو په موخه ژورو هڅو ته متې بډوهلې دي، له دغه ناوړه حالت څخه په افغان ځواکونو کې د اصلاحاتو لپاره ګټه اخلي، ترڅو د افغانستان وسله وال ځواکونه له ټولو هغو عناصرو څخه پاک کړي چې د پخوانیو رژیمونو «کمونیستانو او مجاهدینو» پاتې شوني بلل کېږي. اشرف غني دغه ناوړه امنیتي حالت په امنیتي ځواکونو کې د ضعیفې رهبرۍ او نظامي کدرونو نشتوالی توجیه کوي او له دې لارې په وسله والو ځواکونو کې د اصلاحاتو لپاره لاره اواروي.

دې ته ورته افغان حکومت د یرغلګرو او خپلو جنایتونو د توجیه لپاره ځان له شلو څخه له زیاتو تروریستي ډلو سره په جګړه کې ښکېل ګڼي. په داسې حال کې چې دغه ټولې ډلې د امریکا د څه د پاسه یوې نیمې لسیزې په اوږدو کې د بېلابېلو استخباراتي کړیو په واسطه جوړې شوې دي. همداراز افغانانو تر دې مخکې د فرقه یي او مذهبي جګړې څرک لا نه دی لیدلی، مګر نن دغو خبیثو پانګوالو او د هغو لاسپوڅو، افغانان د مذهبي جګړې پر پوله درولي دي، که له جګړې څخه د افغانانو ستړیا او د ځینو کورنیو او مسلمانو اړخونو ویښوونکی احساس نه وي، ډېر ژر ده چې افغانستان به د یمن په څېر په ناروا مذهبي جګړه کې هم ښکېل کړي.

په ټوله کې لکه څنګه چې ټرمپ د افغانستان لپاره د امریکا ستراتیژي د جنوبي آسیا لپاره د ستراتیژۍ سره یوځای اعلان کړه، افغانستان هم په سیمه کې د چین او روسیې پر وړاندې د امریکایي نظامي اډې په توګه کارول کېږي. ترڅو له یوې خوا امریکا تر کور دننه بېلتون غوښتونکي او تجزیه شوي افکار او احساسات بهرنیو تهدیدونو ته ورواړوي او له بلې خوا د چین پراخېدونکی اقتصادي، سیاسي او نظامي نفوذ محدود کړي، ترڅو له روسیې سره تر دې زیات نژدې نشي او د چین اقتصادي ځواک له روسي بین المللي سیاسي تجربې سره د امریکا او ناټو پر وړاندې ګډ عمل ونه کړي. له دې سره-سره امریکا غواړي د منځنۍ آسیا هایدرو کاربني زېرمو ته ځانونه ورسوي او روسیه مجبوره کړي، ترڅو د امریکا پر مدار کې و چورلیږي. له همدې امله د ټرمپ د نوې ستراتیژۍ له امله هڅه کوي، ترڅو د افغانانو پردي ضد احساسات په خپل منځي شخړو متمرکز کړي. هغوی لارورکي کړي، ترڅو د اساسي دښمن په اړه اصلاً د فکر کولو وخت ونه مومي. په دوامداره توګه د طالب، داعش، پاکستان، ایران، سني، شیعه، پښتون او تاجک په اړه فکر وکړي او په پایله کې د امریکایي شتون د یوې اړتیا په توګه قبول کړي.

د بېلابېلو اړخونو په اړه د پورتني وضاحت په رڼا کې دا ثابتېږي چې د دغو خونړیو بریدونو له لارې افغانستان د سترو استعماري ځواکونو تر منځ د تقابل پر ډګر بدل شوی او په جګړه کې ټول دخیل افغان اړخونه یوازې د خپلو بادارانو د ګټو د خوندیتوب لپاره جګړې ته دوام ورکوي. هغوی زموږ پر وینو د پردیو جګړه پر مخ بیایي. په داسې ناروا جګړه کې هېڅ لوري ته تمه نشته چې د بریالیتوب پر مهال به د افغان مسلمانانو

شته امنيتي، اقتصادي او سياسي ستونزې حل کړي. بلکې هر افغاني اړخ چې پر حکومت واکمن وي، هغه به د امريکا، چين، روسيې، پاکستان او يا ايران ګوډاګی وي.

په داسې وضعيت کې د افغانستان مسلمانانو ته اړينه ده، چې د هغه نظام د تاسيس لپاره متې راونغاړي، چې هغه د دوی د اسلامي عقيدې څخه سرچينه اخلي او د داسې مخلصو کسانو پر لاس يې د بنسټ ډبره کېښودل شي چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم په سيرت او سنتو روزل شوي وي او يوازې پر اسلام عمل کوي. داسې نظام چې يوازې د اسلامي امت له خپل فکري، بشري، اقتصادي او نظامي ځواک څخه يې سرچينه اخيستې وي. داسې ځواک کولای شي چې افغانستان او د اسلامي نړۍ ټولې هغه خاورې چې د يرغلګرو د ناوړه رقابتونو ميدانونه ګرځېدلي دي، د همېش لپاره د ښکېلاکګرو له رقابتونو څخه خلاص کړي. هغسې نظام يوازې د افغانستان يا بلې اسلامي خاورې په ملي پولو کې نه شي رامنځ ته کېدلی، بلکې داسې نظام ته بايد تر پولو اخوا د ټول اسلامي امت په منځ کې منظم فکري او سياسي کار او مبارزه وشي، ترڅو امت د واحد سياسي نظام په درلودلو فکري توافق وکړي او ورپسې په يوه اسلامي خاوره کې د قدرت له ريښتيني عناصرو څخه د رسول الله صلی الله عليه وسلم په طريقه «طلب النصرې» سره په سوله ييزه توګه واک تسليم کړي او له هغه ځايه يوه پر بله پسې اسلامي خاورې له ځان سره يوځای کړي. له نېکه مرغه د دغه سپېڅلې مبارزې اساسي پړاوونه د حزب التحرير د نړيوال سياسي-اسلامي حزب له لارې په ټول اسلامي امت کې په برياليتوب سره ترسره شوي او اوس د خپلې مبارزې په وروستي پړاو کې د امت له پوځونو سره کار کوي، ترڅو له هغوی څخه مادي ملاتړ ترلاسه او د ريښتيني افهام او تفهيم په ترڅ کې واک تسليم کړي او په يوه اسلامي خاوره کې د اسلامي دولت «خلافت» لومړۍ هسته رامنځ ته کړي.

**﴿إِنَّ اللَّهَ بَالِغُ أَمْرِهِ قَدْ جَعَلَ اللَّهُ لِكُلِّ شَيْءٍ قَدْرًا﴾**

له شک پرته الله سبحانه وتعالی خپل امر ترسره کوي او الله متعال د هرڅه لپاره ځانګړې اندازه ټاکلې ده!

**سيف الله مستنير**

**د حزب التحرير ولايه افغانستان د مطبوعاتي دفتر رييس**